لام عليكم ورحمت الله

# م الله الرحمن الرحيم

او تحصيل د بڼ ټولو مينه والو

# راف ليکنې سمينار



ته ښه راغلاست

ځ ، جوړ او خوښ اوسئ.

**صديقي**

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ویاړ ځای دی، چې له تاسو سره د مونوګراف لیکنې
تر عنوان لاندې د اړینو معلوماتو د شریکولو هوډ لرم.

هیله ده تر پایه راسره مله واوسئ.

پوهنمل قدرت الله صدیقي

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د مونوګراف په اړه ځینې اړینې لارښوونې

- د مونوګراف لیکنې لارښود **(هره علمي اداره ځېړنو ترسره کولو لپاره ځانته پالیسي او لارښود لري)**
- د مونوګراف سافټ (ستاسو د څېړنې لومړی قالب، لکه: نرم پیپر، د کورنی دندو موضوعات **(نظر + عمل)**
- د مونوګراف لومړی ورقه ( مسلکي خلکو سره مشوره، ادبیات برابرول، او تخنیکي برخه ډیزاین

***د محصلینو منوګرافونه به د اصل ماخذ سره کتل کېږي او دا ډاډ به ترلاسه کېږي، چې ایا محصل په دقیقه توګه کارکړې دی.***

- **دا سمینار څلور برخې لري:**
  - **۱-د مونوګراف په اړه مهم معلومات**
  - **۲-د مونوګراف د برخو ترتیب**
  - ۳-اقتباس یا د لیکنو څخه د استفادې لارې چارې
  - د مونوګراف د دفاع سمینار ترتیب

(c) ketabton.com: The Digital Library

# فهرست


۱-سریزه
۲-د مونوګراف پېژندنه
۳-د مونوګراف لیکلو ګټې
۴-مونوګراف لیکلو د مخه اړین نقاط
۵-د ښه مونوګراف ځانګړنې
۶-د مونوګراف د برخو ترتیب
۷-لمړی صفحه
۸-بسم الله
۹-تصدیق پاڼه
۱۰-ډالی
۱۱-مننلیک
۱۲-لنډیز(خلاصه) کلیدي ټکي یا کلمې
۱۳-د پیل خبرې
۱۴-فهرست
۱۵-سریزه- پیژندګلوي ( Introduction)
۱۶-موخې
۱۷-کړنلاره او کارتوکي (Methods & Materials)
۱۸-د موضوع اصلي متن یا منځپانګه (Text Body )
۱۹-پایله ( Result) لیکنې تګلاره
۲۰-د مناقشه (Discussion) لیکنې تګلاره
۲۱-نتیجه ګیري (Conclusion )
۲۲-وړاندیزونه (Recommendations )
۲۳-اخځلیکونه (References)
۲۴. د مونوګراف کې د فونټونو استعمال
۲۵. په متن کې ماخذ استعمال او ګټې
۲۶. د ماخذونو د لیکلو تګلاره
۲۶-د اقتباس څخه د استفادې لارې چارې
۲۷. پای
۲۸. د محصلانو پوښتنې

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د کتابتوني یا مروري/ساحوي مونوګراف د لیکنې برخې

د مونوګراف د برخو ترتیب

۷-لمړۍ صفحه

۸-بسم الله

۹-تصدیق پاڼه

۱۰-ډالۍ

۱۱-مننلیک

د پیل خبري

۱۲-لنډیز(خلاصه) کلیدي ټکي یا کلمي

۱۳-فهرست

۱۴-سریزه-پیژندګلوي ( Introduction)

۱۵-موخي

۱۶-کړنلاره او کارتوکي (Methods & Materials)

د موضوع اصلي متن یا منځپانګه (Text Body )

نتیجه ګیري

مناقشه

پایله ( Result)

وړاندیزونه ( Recommendations)

اخځلیکونه ( References)

(c) ketabton.com: The Digital Library

# سریزه

- مونوګراف د څېړنې پیل دی
- څېړنه او لیکنه که هره برخه کې وي د انسانانو په ژوند کې کشفیاتو، نوښتونو او د انسانانو د ژوند بهبود لپاره زمینه برابروي.
- په ټولنیزو علومو کې د هرې لاسته راوړنې اصلی منبع څېړنه ده، چې مونوګراف هم د څېړنې د ډولونو څخه یو مهم ډول دی او محصل کولی شي د څېړنې د اصولو په نظر کې نیول سره کار پیل او پایله ترلاسه کړي.
- مونوګراف لیکنه د محصل پوهه زیاتوي؛ ترڅو د نورو څېړنو زمینه ورته برابر شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

- The English term "monograph" is derived from **modern Latin "monographia", which has its root in Greek**. In the English word, "mono-" means "single" and "-graph" means "something written".
-

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د مونوګراف پېژندنه

مونوګراف (Monograph)یوه انګلیسي کلیمه ده چې له دوه برخو څخه جوړه شوېده :چې Mono د کوچني او Graph د ترسیم معنا لري.

خو په اصطلاحي ډول مونوګراف د څېړنیزو فورمونو له جملې څخه یو فورم دی چې محصل یې د تحصیلي اسنادو د لاسته راوړلو په موخه د یو شرط په توګه د تحصیلي دورې په پاي کې لیکي.

هغه کوچنی او په عین حال کې واضحه لیکنه ده چې د یوې ځانګړې عام فهمه موضوع په اړه د تحصیلي دورې په پاي کې د محصل له لخوا د لارښود استاد تر لارښوونې لاندې د علمي او تحقیقي اصولو په پام کې نیولو سره لیکل کېږي.

پوهنمل قدرت الله صدیقي

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د مونوګراف لیکلو ګټې

- مونوګراف لیکنه د څېړنې په برخه کې د محصل ورتیا زیاتوي.
- د محصل د فکر کولو او تحلیل قوه پیاوړې کوي.
- د محصل یې په مرسته د تحصیلي اسنادو او له هغې څخه د ګټې اخیستنې مستحق ګرځي.
- دا چې مونوګراف یو ډول څېړنه ده او څېړنه نوي حقایق رابرسېره کوي نو مونوګراف هم نوي حقایق رابرسېره کوي.
- د مونوګراف په مرسته د محصل د مطالعې کچه لوړېږي.
- د محصل تجربې ورسره لوړېږي او په ځان د اتکاء حس پیدا کوي.

پوهنمل قدرت الله صدیقي

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د مونوګراف لیکلو د مخه اړین نقاط

مخکې له دې چې یو محصل په مونوګراف لیکنه پیل وکړي باید لاندې پوښتنو ته سالم ځوابونه ومومي:

١. کومه موضوع ولیکم؟ ( د موضوع ټاکل)
٢. څومره یې ولیکم ؟ ( کیفیت ، نه کمیت)
٣. څه ډول یې ولیکم ؟ ( د اصولو مراعت )
٤. د چا لپاره یې ولیکم؟ ( د هر چا لپاره د سویې ټاکل)
٥. ولې یې ولیکم ؟ ( د ژبې او کلتور غني والی)

پوهنمل قدرت الله صدیقي

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د ښه مونوګراف ځانګړنې

۱. موضوع باید نوې ، جالبه او له نوښته ډکه وي.
۲. د کمیت په نسبت پکې کیفیت ته پاملرنه شوې وي.
۳. موضوع یې نه ډېره لویه او نه ډېره کوچنۍ وي.
۴. مونوګراف د لیکوال په خپله ژبه لیکل شوی وي.
۵. د اصولو او مقرراتو مطابق وي.
۶. یوه نوې فرضیه پکې ثابته شوې وي.
۷. د څېړنې د یو مشخص ډول څخه پکې استفاده شوې وي.
۸. تېرو موضوعاتو ته پکې په انتقادي بڼه کتنه شوې وي او نیمګړتیاوې یې بیان شوې وي.

پوهنمل قدرت الله صدیقي

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د څیړنیز/ساحوي او مروري/کتابتوني منوګراف برخې

## The parts of a research report

- Introduction — What did you do? Why?
- Materials and Methods — How did you do it?
- Results — What did you find?
- Discussion — The interpretation of your results.
- Summary — Statement of main findings.
- Acknowledgements — Who helped?
- References — Details of references cited.

(c) ketabton.com: The Digital Library



(c) ketabton.com: The Digital Library

# The IMRAD Format for Scientific Papers

- **I**ntroduction: What was the question?
- **M**ethods: How did you try to answer it?
- **R**esults: What did you find?
- **A**nd
- **D**iscussion: What does it mean?

(c) ketabton.com: The Digital Library

# Some Other Structures

- IRDAM (Introduction, Results, Discussion, and Methods)
- IMRDRD…(Introduction, Methods, a Result, Some Discussion, Another Result, More Discussion . . . )
- Essay-like format, with subheadings chosen by the author
- Other
- Question: In your field, what is the usual structure of papers reporting research?

(c) ketabton.com: The Digital Library




- Title
- Abstract
- Keywords

Make it easy for indexing and searching
(informative, attractive, effective)

- Main text
  - Introduction
  - Methods
  - Results
  - Discussion

- Conclusion
- Acknowledgements
- References
- Supplementary Data

(c) ketabton.com: The Digital Library

السلام عليکم ورحمت الله

# بسم الله الرحمن الرحيم

د علم او تحصيل د بڼ ټولو مينه والو

# د منوګراف ليکنې سمينار



ته ښه راغلاست

روغ ، جوړ او خوښ اوسئ.

ارايه کوونکی: پوهنمل قدرت الله صديقي

(c) ketabton.com: The Digital Library

# Title سرلیک یا عنوان

- Limited to 8 to 15 words
- Relevant to the subject
- In single phrase
- Correct Grammar and proper capitalization
- Avoid abbreviations
- Relevant, Short, Systematic, Mirroring, Comprehensive
- لومړی د یو منوګراف لیکلو مخکي د عنوان انتخاب دی، یاني عنوان باید ځیرني اهمیت ښودونکي وي، ځانګړي/مختصر، واضح، مفهوم لرونکی/قابل فهم، لنډ، جامع/جذاب او د اصلي محتوا مطابق وي؛ همدارنګه عنوان له ۲۰ کلمو څخه زیات نه وي.
- د منوګراف موضوع به نوې، د مسلک اړوند او د وخت د غوښتنو مطابق وي، له دي وړاندي به په د ځانګي د منوګراف ثبت کتاب کي نه وي ثبت شوي, د منوګراف عنوان باید په بشپړه توګه معنا لرونکی او د متن سره مطابقت ولري او د پاڼي په منځ کي ولیکل شي.
- ګونګ، فورمولي او د مخفف کلیماتو څخه باید پاک وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د لوړو زده کړو وزارت

شیخ زاید پوهنتون

ټولنیزو علومو پوهنځي

ټولپوهنې او فلسفې څانګه

22

د لیسانس دورې پایلیک

18

په ماشومانو د تلویزون او ګرځنده موبایلو منفي اغېزو څېړل

30

(د کابل ولایت پغمان ولسوالۍ موردي مطالعه)

18

څېړونکی: فرهاد الله

لارښود استاد : قدرت الله صدیقي

18

کال : ۱۴۰۳ هـ ش

18

---

د لوړو زده کړو وزارت

شیخ زاید پوهنتون

ټولنیزو علومو پوهنځي

ټولپوهنې او فلسفې څانګه

22

د لیسانس دورې پایلیک

18

د ابن خلدون ټولنیز افکار

30

ترتیب کوونکی : محمد مقیم اوربنګ

لارښود استاد : محمد عالم صافی

18

کال : ۱۴۰۳ هـ ش

18

(c) ketabton.com: The Digital Library

د لوړو زده کړو وزارت
شیخ زاید پوهنتون
ټولنیزو علومو پوهنځي
ټولنپوهنې او فلسفې څانګه
22

د لیسانس دوري پایلیک
18

## په ماشومانو د تلویزون کتلو د منفي اغېزو څېړل
30

(د کابل ولایت پغمان ولسوالي موردي مطالعه)
18

څېړونکی، فرهاد الله
لارښود استاد ، قدرت الله صدیقي
18

کال : ۱۴۰۳ هـ ش
18

د لوړو زده کړو وزارت
شیخ زاید پوهنتون
ټولنیزو علومو پوهنځي
ټولنپوهنې او فلسفې څانګه
22

د لیسانس دوري پایلیک
18

## د ابن خلدون عصبیت نظرېې ته لنډه کتنه
30

ترتیب کوونکی ، محمد مقیم اوبرنګ
لارښود استاد ، محمد عالم صباق
18

کال : ۱۴۰۳ هـ ش
18

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د عموم څخه د ځانګړي طرف ته تلل
# General to Specific

- د ابن خلدون نظریات لکه: کوم نظریات، ټولنیز نظریات، فلسفي نظریات، سیاسي نظریات، تاریخي نظریات، اقتصادي نظریات، د ښوونې او روزنې په اړه نظریات

دلته ډېر نظریات شتون لري، کوم یو یې تاسو خپرې او په هغه نظریه کوم ځانګړې ساحه یا موضوع انتخابوي دا ډېر مهم دي.

- د ابن خلدون عصبیت نظریې ته لنډه کتنه

- د ستونزې سطحې
- فردي
- محلی سیمه ییزې ستونزې
- ملي
- بین المللي
- سازمان / برنامه
- طبیعي یا ټولنیزې (پدیدي)

په ماشومانو د تلویزون کتلو منفي اغېزو څېړل

(د کابل ولایت پغمان ولسوالی موردي مطالعه)

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د څېړنېزې ستونزې سطحې

- فردي / شخصي (سن)
- په کوم قشر کې(ماشومان، ځوانان، بوډاگان، معلول، تعلیم یافته، بی سواده، مسلکي، د پېښې/پدیدې شاهد یا زیانمن شخص
- محلي، سیمه ایزه کچه ستونزه
- ملي
- بین المللي
- سازمان / برنامه
- پدیده: ټولنیزه، کلتوري، رواني، روحي
- طبیعي یا ټولنیزې (پدیدې)

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د موضوع په ټاکلو کې د خپل ملګرو، استادانو او مسلکي خلکو سره مشوره کول

- د بې کارۍ، فقر یا بې سوادۍ، ناامني په ټولنه د منفي عواملو څېړل
- په ټولنه کې د ځوانانو د بې کارۍ لاملونه څېړل، یا منفي اغېزو څېړل
- **په افغانستان کې** د بې کارۍ لاملونه څېړل
- **په خوست ولایت** د ځوانانو د بې کارۍ لاملونه څېړل
- **د خوست ولایت په تڼیو**ولسوالۍ کې د ماشومان مکتب د نه تګ لاملونه څېړل
- په تڼیو ولسوالۍ کې د دړګي کلي ماشومانو مکتب د نه تګ لاملونو څېړل

(c) ketabton.com: The Digital Library

# Area Profile






Wikipedia
https://en.wikipedia.org › wiki · د دې پاڼې ژباړه وکړئ

Khost Province

As of 2021, it was estimated that the population of the province stood at **647,730**, which makes it the 16th most populated province in Afghanistan. Khost ...

(c) ketabton.com: The Digital Library

۳ سانتی متره

۳ سانتی متره

# بسم الله الرحمن الرحیم

## د نوي لایحې مطابق د مونوګراف چوکاټ (فارمټ)

**یادوني :**

۱. صفحه باید (A۴) سایز وي (۲۹x۲۱cm)
۲. د متن فونټ باید د پښتو معمول فونټ وي .
۳. د عنوان فونټ باید (۱۶) وي.
۴. د متن فونټ باید (۱۴) وي .
۵. د صفحې حاشیې (Margins) باید د چپ او راستي خوا څخه (۳cm) وي او د سر او پای له خوا باید (۲cm) وي.
۶. په کومو صفحو کې چې (بسم الله، فهرست، د لارښود استاد نظر او سریزه) راځي، هغه صفحې دې د الفبې د توریو په واسطه وپیژندل سي .

۲ سانتی متره

(c) ketabton.com: The Digital Library

# لنډيز يا خلاصه

- **۳- د منوګراف لنډيز** (Abstract)
- په ملي ژبه د لنډيز د کلمو شمېر دې له (۲۰۰ -۲۵۰) پورې وي.
- **د لنډيز ليکنې تګلاره**
- په ملي ژبه د څېړنې په لنډيز کې د يوه پاراګراف به بڼه د څېړنې مهمې موضوعګانې، چې د څېړونکي د تشريح او وضاحت پرته د هغه اصلي اندونو ته اشاره شوې وي، په ماضي کلمو به ليکل کېږي. په څېړنه کې د ټولې څېړنې لنډيز اړين دی؛ ځکه چې د همدې لنډيز د مطالعې پر اساس د ټولې څېړنې غوره والی څرګندېږي او لوستونکي دې ته اړ کوي، چې ياده څېړنه تر پايه ولولي. د يادونې وړ ده، چې د لنډيز متن د ټول منوګراف د بشپړ کېدو څخه وروسته چمتو کېږي.
- د منوګراف له لارې د پوښتنې حل يا پرابلم ته د رسيدنې ذکر ولري.
- د ستونزې بيان، د موضوع عمومي او ځانګړې بيان، څېړنې د طرحې، **اهميت** او **هدف معرفي** کوونکی وي.
- د استعمال شوې کړنلارې، **اصل پايلې او اصل نتيجه ګيری** او **مختصر وړانديزونه** ذکر ولري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# کلیدي ټکي

**کلیدي کلمې/ټکي** (Key words)

**د منوګراف د لنډیز په وروستۍ کرښه کې د کلیدي کلمو راوړل اړین دي.**

- **د کلیدي کلمو** (Key words) **د لیکنې تګلاره**
- کلیدي کلمې (Key words)له لنډیز وروسته په لاندې معیارونو لیکل کیږي:
- ۱- کلیدي کلمې به د څیړنې محتوا سره نږدې اړیکې لري.
- ۲- په کلیدي کلمو کې به منلي او معیاري اصطلاحات کارول کیږي.
- ۳- د کلیدي کلمو شمېره به (۵- ۷) پورې وي.
- ۴- کلیدي کلمې به د الفبا تورو په ترتیب لیکل کیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د تاریخ په اوږدو کې له ماشوم څخه د مزدور په توګه کار اخیستل په بیلا بیلو کچو تر سره شوی. د ماشومانو شاقه کارونه یوه نړیواله ستونزه ده، چې په ټوله نړۍ کې یې ماشومان اغېزمن کړي. ډیری ماشومان ددې ستونزې څخه خوریږي او د تاوتریخوالي مختلف ډولونه تجربه کوي. ډیری ماشومان چې عمرونه یې د ۱۸ کلونو څخه کم دی، په بیلابیلو سکتورونو کې کار کوي. په درېیمه نړۍ هیوادونه کې د ماشومانو د کار عمده لاملونه بې وزلي، بې کارۍ، بې سوادي او د زده کړو نه شتون دی، چې ماشومان له خپل ماشومتوب څخه بې برخې کوي. په منظم ډول ښوونځي ته د ماشوم په تګ کې خنډ واقع کېږي او همدا کار له روانې، بدني، ټولنیز او اخلاقي اړخونو ته زیان رسونکی وي. په ټوله نړۍ کې له ماشوم څخه داسې ناوړه ګټه اخېستل، د قانون له مخې منع دي او دا ټول لاملونه د ماشوم په راتلونکي او ټولنیزو ژوند ژوري منفي اغېزې لري. د څېړنو د احصایې له نظره په ټوله نړۍ کې ۱۶۰ میلونه په درانده کارونو بوخت او افغانستان کې په هر ۵ ماشومان کې ۱ ماشوم په درانده کارونو اخته او په خوست ولایت کې د څېړنو له مخې ۲۰۰۰ ماشومان په شاقه کارونو بوخت دي. د څېړنې د موندنو څخه دا څرګنده شوه، چې په ماشومانو درانده کارونه زموږ ټولنې په راتلونکي یو نه جبرانیدونکي او د دوی ژوند په هر اړخ منفي اغېزې لري. ددې څېړنې هدف دا و، چې د ټولنې راتلونکی نسل، چې د خپل حق غوښتلو د بیان توان هم نه لري، د دوی حقوق تأمین او د ژوند د ټولو حقوقو څخه برخمن شي. په ماشومانو باندې د درانده کارونو د مخنیوي په لارو چارو کې والدین، دولت، د ټولنې دیني او خیریه بنسټونه، رسنۍ او ټولنې نخبه وګړي مهم رول ادا کولای شي. پدې څېړنه کې د ډاټا راټولو لپاره د کیفي(مرکه، موردي مطالعه) او کمي(پوښتنپانه) دواړه څېړنیزو میتودونو څخه پکې استفاده شوې ده.

Moorche
د ستونزې بیان

Moorche
د ستونزې عمومي او ځانګړې بیان

Moorche
د څېړنې موندنې

Moorche
د څېړنې هدف

Moorche
وړاندیزونه

Moorche
د څېړنې میتود

(c) ketabton.com: The Digital Library

## په خوست ولایت کې د ماشومانو په راتلونکي او تولنیزژوند د شاقه کارونو اغېزو څېړل

د تاریخ په اوږدو کې له ماشوم څخه د مزدور په توګه کار اخېستل په بېلا بېلو کچو تر سره شوی. د ماشومانو شاقه کارونه یوه نړیواله ستونزه ده، چې په توله نړۍ کې یې ماشومان اغېزمن کړي، ډېری ماشومان ددې ستونزې څخه خوریږي او د تاوتریخوالي مختلف ډولونه تجربه کوي. ډېری ماشومان چې عمرونه یې د ۱۸ کلونو څخه کم دی، په بېلابېلو سکتورونو کې کار کوي. په دریېمه نړۍ هېوادونه کې د ماشومانو د کار عمده لاملونه یې وزلي، بې کارې، بې سوادې او د زده کړو نه شتون دی، چې ماشومان له خپل ماشومتوب څخه بې برخې کوي. په منظم ډول ښوونځي ته د ماشوم په تګ کې خند واقع کېږي او همدا کار له روانې، بدني، تولنیز او اخلاقي اړخونو ته زیان رسونکی وي. په توله نړۍ کې له ماشوم څخه داسې ناوړه ګټه اخېستل، د قانون له مخې منع دي او دا ټول لاملونه د ماشوم په راتلونکي او تولنیزو ژوند ژوري منفي اغېزې لري. د څېړنو د احصایې له نظره په توله نړۍ کې ۱۶۰ میلونه ماشومان په درانده کارونو بوخت او په افغانستان کې په هرو پنځو ماشومان کې یو ماشوم په درانده کار اخته دی او په خوست ولایت کې د څېړنو له مخې ۲۰۰۰ ماشومان په شاقه کارونو بوخت دي. د څېړنې د موندنو څخه دا څرګنده شوه، چې په ماشومانو درانده کارونه زموږ تولنې په راتلونکي یو نه جبرانیدونکي او د دوي ژوند په هر اړخ منفي اغېزې لري. ددې څېړنې هدف دا و، چې د تولنې راتلونکی نسل، چې د خپل حق غوښتلو د بیان توان هم نه لري، د دوی حقوق تأمین او د ژوند د ټولو حقوقو څخه برخمن شي. په ماشومانو باندې د درانده کارونو د مخنیوي په لارو چارو کې والدین، دولت، د تولنې دیني او خیریه بنسټونه، رسنۍ او تولنې نخبه وګړي مهم رول ادا کولای شي. پدې څېړنه کې د داتا راتولو لپاره د کیفي(مرکه، موردي مطالعه) او کمي(پوښتنپانه) دواړه څېړنیزو میتودونو څخه پکې استفاده شوي ده.

SCC
عنوان

Moorche
د ستونزې بیان

Moorche
د ستونزې عمومي او ځانګړي بیان

Moorche
د څېړنې موندنې

Moorche
د څېړنې هدف

Moorche
وړاندیزونه

Moorche
د څېړنې میتود

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د پیل خبرې، د سرخبرې یا پیلیزه

پیلیزه یا د سر خبرې، د پیل خبرې کې د موضوع د ټاکلو انګیزه، د موضوع بشپړولو اسانتیاوو او ستونزو، د ځېړنې ضرورت او ارزښت توضیحات ورکول کیږي. د لاربنود استاد او کومک کوونکو نه مننه، دغه مننه باید د چاپلوسۍ په شکل نه وي، بلکې په احترامانه ډول وي. مخکنۍ خبرې د موضوع د بشپړتیا وروسته لیکل کیږي او د موضوع په پیل کې راوړل کیږي. په پیلیزه کې ځېړونکی باید د الله تعالی شکر ادا کړي، چې په کامیابۍ سره یې وشو کولولی موضوع پای ته ورسوي

(c) ketabton.com: The Digital Library

# سریزه یا مقدمه

- ځینې خلک د سرخبرې او مقدمې ترمنځ توپیر کې سهوه کیږي، ولې د پیل خبرې او مقدمه یو له بله توپیر لري.
- د پیل خبرې کې اکثره شخصي او فردي موضوعات راځي، چې ډیر یې علمي نه وي؛ خو د څیړنې اخلاق ایجابوي، چې باید راوړل شي.
- په سریزه کې علمي مطالب راځي، سریزه په څیړنه کې د داخلیدو د دورازې حیثیت لري.
- د سریزې د لوستلو سره باید د اصلی متن انځور مخې ته راشي او د لوستلو سره یې د ټول متن نه باخبره شو.
- مقدمه باید د اصلی موضوع سره معنوي رابطه ولري او لوستلونکی د مقدمې په لوستلو اصلي متن لوستلو ته وهڅوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# په عمومي ډول مقدمه کې لاندې خبرې راوړل اړین دي

څېړونکی ټول هغو پوښتنو چې د څېړنې د اهمیت په هکله د نورو څېړنکیو په ذهن کې پیدا کیږي، ځواب وایي.

- هغه نویو، ژوندیو او مبتکرو موضوعاتو ته اشاره کوي، چې موضوع ورباندې بحث شوی وي.
- د څېړنو د غټو عنوانونو بیانول اړین دي.
- څېړونکی به په سریزه کې د اصلي ماخذونو یادونه کوي او د ځینو ماخذونو اهمیت به بیانوي او دا به څرګندوي، چې ماخذونه یې د کوم ځای لاس ته راوړي دي.
- د مقدمه باید زړه راښکوونکې، جذابه او یو ډول تلوسه په کې موجوده وي، چې لوستونکی د اصلی متن لوستلو ته وهڅوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# په عمومي ډول مقدمي لپاره لاندې سرليکونه مهم دي او تر هر عنوان لاندې بېل بحث کيداى شي، لکه:

**د سريزې(Introduction) ليکنې تګلاره**

په سريزه کې د لاندې عناصرو شتون اړين دی:
ا-سريزه به په بسم الله الرحمن الرحيم او هم د الله تعالی په حمد او ثنا سره پيل شي؛ خو په خطبه کې دې داسې الفاظ وکارول شي، چې د څېړنې موضوع ته پکې اشاره شوې وي.
ب- له خطبې وروسته د څېړنې د اړتيا او د موضوع وضاحت وروسته دې لاندې عناوين وڅېړل شي:

- د څېړنې طرحه-د کيفي څېړنو لپاره
- د څېړنې هدف
- د څېړنې ارزښت
- د څېړنې پوښتنې
- د څېړنې شاليد
- د څېړنې ميتود

د پډې يا پښې پېژندنې څېړنيز ډيزاين ، د قضيې مطالعې څېړنيز ډيزاين، د توکم/خلک/ نژاد پيژندنې څېړنيز ډيزاين/ د مځکې نظريه څېړنيز ډيزاين

(c) ketabton.com: The Digital Library



(c) ketabton.com: The Digital Library



(c) ketabton.com: The Digital Library

## What is the difference between qualitative and grounded theory?

### Answer and Explanation:

The grounded theory research method differs from the other types of qualitative research methods in that it constructs a theory from data after it has been collected and analyzed, rather than seeking to prove or disprove a theory.



(c) ketabton.com: The Digital Library



(c) ketabton.com: The Digital Library

# سریزه

- **د سریزې(Introduction) لیکنې تګلاره**
- په سریزه کې د لاندې عناصرو شتون اړین دی:
- ا-سریزه به په بسم الله الرحمن الرحیم او هم د الله تعالی په حمد او ثنا سره پیل شي؛ خو په خطبه کې دې داسې الفاظ وکارول شي، چې د څېړنې موضوع ته پکې اشاره شوې وي.
- ب- له خطبې وروسته د څېړنې د اړتیا او د موضوع وضاحت وروسته دې لاندې عناوین وڅېړل شي:
- څېړنیزه ستونزه
- د څېړنې موخې
- پخوانیو لیکنو ته کتنه
- د څېړنې اهمیت
- د څېړنې مواد او تګلاره

(c) ketabton.com: The Digital Library

# TYPES OF QUALITATIVE AND QUANTITATIVE RESEARCH

## Quantitative Research




- Descriptive
- Correlational
- Causal-comparative
- Experimental



## Qualitative Research

- Ethnography
- Narrative
- Phenomenological
- Grounded Theory
- Case Study

infiniti RESEARCH

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د څېړنې د ډيزاين ډولونه



(c) ketabton.com: The Digital Library

# د کمي څېړنو څېړنيز ډيزاين ډلبندي



(c) ketabton.com: The Digital Library

د ادب یا کتنې په اړه درې شکلونه شتون لري چې لاندې انځور په شکل تشریح کیږي.

۱-د ادب یا کتنې سرچپه/نسکور هرم The inverted Pyramid

۲-دعموم څخه مشخص/ځانګړی ترتیب General to Specific order

۳-د قیف(یا بره نه ښکته کوچنې کېدل) روش Funnel Approach

د عموم څخه ځانګړي/مشخص ته



(c) ketabton.com: The Digital Library

# اصلي موضوع يا متن

په دې برخه کې ټول مطالب په منطقي توګه يو پر بل پسې ځېرل کېږي ، ليکوال د موضوع د ارزښت له مخې په پيل کې مطالب پر بېلابېلو ځېرکيو او بيا د هر مطلب په اړوندو ځېرکيو کې تر لويو او وړو سرليکونو لاندې معلومات وړاندې کوي.

ځېرونکی له بېلابېلو منابعو څخه معلومات راټولوي او د خپل علمي او فکري استدالي قوت په ملتيا يې تحليل ، توضيح او تشريح کوي. هڅه کوي چې په پای کې يوه جامعه نتيجه ترې راوباسي او په اړونده موضوع کې يې د ګټورو او مطلوبومعلوماتوپه توګه لوستونکيوته وړاندې کړي

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ځېړني په اصلي موضوع کې د هرڅپرکي او هرسرليک په پيل کې بايد مقدماتي خبرې نه وي او راساً په موضوع پيل وشي.

د هر څپرکي د هرسرليک تفسيرونه، تحليلونه او تعبيرونه په داسې عملي ډول وشي چې د موضوع منطقي تسلسل په کې مراعات شي.

د هر سرليک پای بايد د بل سرليک سره رابطه ولري او لوستونکی د يو عنوان د لوستلو وروسته د بل عنوان د لوستلو تلوسه ولري، که چېرې څېړونکی د ليکوالی مهارت او د څېړني رياضت ولري هر عنوان به يې د بل سره علمي تسلسل لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د څېړنې د اصلي موضوع خصوصيات

۱. متن بايد ساده ، روان ، څرګنداو په علمي څېړنېزه ژبه وليکل شي.

۲. د څېړکيو او موضوعاتو ترمنځ بايد علمي وحدت موجود وي.

۳. په موضوع کې بايد له تکراري خبرو ډډه وشي، نامانوس او پېچلي لغات بايدپه کې استعمال نه شي.

۴. له پيله تر پايه بايد موضوع کې تاکلي څېړنېز دول او ميتود وکارول شي.

۵. په نقل قولونو کې له امانت دارۍ کار واخستل شي.

۶. د اوږدو او بې ځايه عبارتونو اوجملوراوړلونه استفاده ونه کړي او نه دي له ډېراختصاره کار اخلي.

پوهنمل قدرت الله صديقي

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د منوګراف/ د څېړنې اهمیت او د لیکنې تګلاره یې

په هره څېړنه کې د څېړنې اهمیت او اړتیا په ګوته کول اړین ګام دی، چې په ټوله کې باید د څېړنې په اهمیت لیکنه کې لاندې پوښتنې ځواب شي:

- ۱- په ترسره شویو څېړنو کې څه نېمګړتیا وه، چې ته یې هم د یادې موضوع څېړنې ته وهڅولې؟
- ۲- د څېړنې په اهمیت کې باید څرګنده شي، چې ولې زما څېړنه مهمه ده؟
- ۳- په ټولنه کې کوم ډول او څه ډول لوستونکو سره مرسته کولای شي؟
- ۴- د څېړنې د بشپړولو وروسته به په ټولنه کې څه ډول مثبت تغییرات راولي؟
- کېدای شي د څېړنیزې موضوع په تړاو زیاتې څېړنې شتون ولري؛ خو شونې ده، چې ترسره شوې څېړنې به یوشمېر نېمګړتیاوې هم لرې؛ نو د خپلې څېړنیزې موضوع د غوره کولو په پار دې لوستونکو ته اهمیت جوت او څرګند کړي او دا دې په اثبات ورسوي، چې زما څېړنې ته په ټولنه کې څومره اړتیا وه او په ټولنه کې له کوم ډول کسانو سره مرسته کولای شي او هم په ټولنه کې به دا ډول مثبت تغییرات هم راولي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# کړنلاره او کارتوکي (Methods & Materials)

د منوګراف د کړنلارې په دغه برخه کې لیکوال/څېړونکی په واضح ډول د هغو میتودونو یا روشونو ذکرکوي د کومو له لارې، چې شته پرابلم/ پوښتني / مسئلې ته رسیدګي ترسره کیږي. په دې برخه کې لیکوال/ څېړونکی د دې ذکر هم کوي، چې نوموړی په کوم ډول منوګراف تنظیم یا جوړوي. د کړنلارې نور موارد په لاندې ډول دي.

- د څېړنې نوعیت او ډیزاین.
- د څېړنې ځای.
- احصایوي ټولنه ، د نمونو شمېر او د نمونه اخیستنې کړنلاره.
- د معلوماتو د راټولولو ابزار او وسایل.
- د معلوماتو د تحلیل او تجزیې کړنلاره.
- د څیړنې د قیمت او مالي منابعو په اړه یادونه کوي.
- د امکاناتو، محدودیتونو او اخلاقي مسایلو تذکر تر سره کیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## په څېړنیزو لیکنو کې د شالید (Background / Literature Review) برخه عموماً په دوو ډولونو وېشل کېږي:

- ۱ .تجربوي اثار(Empirical Studies)
- په دې برخه کې هغه څېړنې راځي چې عملي، میداني یا احصایوي معلوماتو پر بنسټ شوي وي.
- څېړونکي په دې برخه سمه ایزې لیکنې چې د خلکو له تجربو، سروې ګانو، مرکو او احصایوي تحلیلونو څخه معلومات راټول کړي.
- د دې دندې هدف دا دی چې وښیي څومره عملي څېړنې په دې برخه کې شوي دي او د څېړنې موضوع څنګه په واقعي ډاټا ولاړه ده.
- بېلګه: د ځوانانو بېکارۍ په اړه داسې څېړنې چې په ځانګړو ولایتونو کې د سروې له لارې د بېکارۍ کچه معلومه کړې وي.
- ۲ .کتابتوني اثار(Theoretical / Bookish Studies)
- په دې برخه کې هغه اثار راځي چې د کتابونو، مقالو او تیوریکي سرچینو پر بنسټ لیکل شوي وي.
- عموماً پکې د ستونزې تعریفونه، مفاهیم، تیورۍ، او لاملونه شامل وي.
- هدف یې دا دی چې څېړنه د علمي تیورۍ او مفهومي بنسټ له مخې هم ټینګه شي.
- بېلګه: د ځوانانو بېکارۍ تعریفونه، د مارکس د ټولنیز تضاد تیوري، یا د دورکیم د انومي تیوري له مخې د بېکارۍ لاملونه.
- نو کله چې ته د څېړنې شالید لیکې، معمولاً:
- لومړی د تجربوي اثارو یادونه کوې (څومره عملي څېړنې شوي دي په یاده موضوع کې، پایلې یې څه وې).
- وروسته د کتابتوني اثارو یادونه کوې (تیوریکي تعریفونه، علمي لیدلوري او لاملونه).

(c) ketabton.com: The Digital Library

# نتيجه ګيري (Results)

- د منوګراف په دغه برخه کې لاندې موارد ذکر کيږي.
- د څېړنې لاس ته راوړنې يا پايلې راپورکيږي
- د څېړنې د موندنو تر ټولو غوره مېتود هغه دی، چې د شکل، ګراف او جدول له لارې معلومات وړاندې شي.
- د څېړنې موندنې بايد د څېړنې د فرضيو او پوښتنو په پام کې نيولو سره په ترتيب وړاندې شي.
- په دغه برخه کې د داسې احصايوي اسنادو ښودنه ترسره کيږي، چې وښايي د څېړنې پايلې اعتباري او د اعتماد وړ دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# مناقشه (Discussion)

- د منوګراف په دغه برخه کې باید لاندې اقدامات ترسره شي.
- خپلو موندنو یا پایلو ته د سریزې/ پیژندګلوي په برخه کې ذکر شوي پرابلم یا پوښتنې، تېرو علمي څېړنو او یا د نورو څېړونکو موندنو ته سره اړېکه ورکوي او مقایسه یې ترسره کوي. **د دې وضاحت کوي، چې څرنګه د نوموړې موندنې یا پایلې په موجوده علم کې د زیاتوالي باعث کېدلای شي.**
- په دې برخه کې د تحقیق د راپور د ټولو برخو ترمنځ ربط ورکول کیږي، له همدې امله لازمه ده، چې د دې څېړنې او پخوانیو څېړنو د **موندنو** ورته والی او **تفاوت** روښانه شي او دا معلومه شي، چې د څېړنې موندنې د مطالعه کېدونکې مسئلې د روښانه کولو او همدارنګه په **همدې رشته کې د شته علم له اضافه والي** سره څه ډول مرسته کولای شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# پایله (Conclusion)

د منوګراف په دې برخه کې د نتیجه ګیري او مناقشې خلاصه وړاندې کیږي او په ټولنه کې اړونده موضوع اهمیت یا Contribution ذکر کیږي او د دې څخه علاوه د څیړنې محدودیتونه، وړاندیزونه او راتلونکي څېړونکو ته د موضوع اړونده برخه کې توصیه هم ذکر کیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# پایله (کتابتوني مونوګراف)

- د اصلی متن په پای کې پایله راځي، پایله د هرې څېړنې لپاره اړینه ده.
- پایله په ډېرو لږو عباراتو کې لیکل کیږي او د ټولې تحقیقي موضوع استازیتوب کوي.
- په پایله کې د موضوع پر **اهمیت**، **هدف**، د **څېړنې پر لاسته راړونو** باندې خبرې کیږي.
- هره څېړنه زیات او کم نیمګړتیاوې لري، څېړونکی چې کومې نیمګړتیاوې په څېړنه کې وینې او د ځینو ستونزو له امله یې پوره کړې نه وي، د دې نیمګرتیاوو د پوره کولو په هکله **راتلونکي څېړونکیو ته نصیحت او وصیت کوي؛** ترڅو چې راتلونکي څېړونکي پردې توصیو عمل وکړي او په راتلونکي کې په ټاکلو شوې موضوع څېړنه کې **نیمګړتیاوې** رفع کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ځينې اداري مناقشه او وروستۍ پايله سره يو ځای کوي او ځينې يې نيتجه ګيري او مناقشه سره يو ځای، ځينې بيا درې واړه سره جلا جلا کوي

Discussion and Conclusion

Conclusion: include discussion of research results and comparison with previous results and explanation of findings, expression of limitations, and suggestions.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# پایله

- د اصلی متن په پای کې پایله راځي، پایله د هرې څېړنې لپاره اړینه ده.
- پایله په ډېرو لږو عباراتو کې لیکل کیږي او د ټولې تحقیقي موضوع استازیتوب کوي.
- په پایله کې د موضوع پر اهمیت، هدف، د څېړنې پر لاسته راړونو باندې خبرې کیږي.
- هره څېړنه زیات او کم نیمګرتیاوې لري، څېړونکی چې کومې نیمګړتیاوې په څېړنه کې وینې او د ځینو ستونزو له امله یې پوره کړې نه وي، د دې نیمګرتیاوو د پوره کولو په هکله راتلونکي څېړونکیو ته نصیحت او وصیت کوي؛ ترڅو چې راتلونکي څېړونکي پردې توصیو عمل وکړي او په راتلونکي کې په ټاکلو شوې موضوع څېړنه کې نیمګړتیاوې رفع کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د مقالو د برخو اجمالي سلايډونه

(c) ketabton.com: The Digital Library

# Title

- The **title** precises the >>>>>>>>>main idea.
- A good **title** >>>>>>possible words that adequately describe the contents >>>>>>> **research paper**.
- The **title** >>>>>>> read the most>>>>>>>>>>generally read first.

# Outline

- Clear map of the structure of a research plan and conducted research.

# Keywords

- **Important words**/concepts.
- Quick way to pull most **important** nouns;
- Using **keywords** to search will always retrieve more results than **phrases** or sentences.

# ABSTRACT

- First section of a research paper that provides the study's purpose,
- research questions or suggestions, main findings with conclusions.
- Contained one paragraph of about 150 words
- written when the whole work is finished already.
- key aspects of studies, including discussions about the relevance of findings, recommendations and suggestions.

# Introduction (What, How and Why?)

- Research Questions
- Need of Proposal
- Objectives of Research

(c) ketabton.com: The Digital Library

# Literature Review (What and Why)

- Analysis of past studies or scholarly articles to be familiar with research questions or topics.
- Asynthesizes arguments and ideas from scholarly sources
- Literature on concerned study
- Literature on Scientific method
- Theoretical approach
- Practical approach
- Facts and findings
- Look for valuable uses

# Methodology or Materials and Methods (

- Research materials (living individuals)
- Research design
- Area, Station
- Location geography
- Research procedures
- Kind of data
- Collection procedure
- Selection and access
- Analysis of Data
- Software versions
- Ethic Statement
- Cost and funding

**How**

# Results and Discussions

- Evidence of Importance
- Inform methodology
- Preliminary Findings
- Important categories and relationship

**Limitations**

- **Alternative**
- **Weakness**

# Conclusions/Summary

- Contributions
- Importance
- Recommendation

(c) ketabton.com: The Digital Library

# Recommendations

- take its roots from a discussion section
- propose potential solutions or new ideas based on obtained results in a research paper.
- In this case, if scientists have any recommendations on how to improve this research so that other scholars can use evidence in further studies,
- they must write what they think in this section.

# Acknowledgments or Appendix

- may take different forms from paragraphs to charts.
- include additional information on a research Project.

# References

- scientists provide all used sources by following the format and academic rules.

(c) ketabton.com: The Digital Library

السلام علیکم ورحمت الله

بسم الله الرحمن الرحيم

د علم او تحصیل د بڼ ټولو مینه والو

# د منوګراف لیکنې سمینار



ته ښه راغلاست

روغ ، جوړ او خوښ اوسئ.

ارایه کوونکی: پوهنمل قدرت الله صدیقي

(c) ketabton.com: The Digital Library

# وړاندیزونه

- کله چې څېړنه بشپړه او لاس ته راغلي نیتجې یې وښودل شي؛ نو بیا د نتیجو د علمي کولو او د همدغه موضوع په هکله په راتلونکي کې د پراخو څېړنو په منظور یو لړ علمي وړاندیزونه کوي، دا وړاندیزونو باندې څېړنه پای ته رسیږي.
- هره علمي څېړنه باید علمي پیشنهادونه (وړاندیزونه) ولري او د څېړنې د نتایجو د عملي کیدو لارې چارې باید څېړونکی پیشنهاد کړي یا که چېرې یو محقق په یوه ځانګړې موضوع د تحقیق کولو اراده کوي او سره د ډېرو کوښښونو یې څېړنه نورو پراخو معلومات ته ضرورت ولري؛ نو په دې صورت کې اینده لیکوالو او څېړنکیو ته شخصي وړاندیزونه کوي؛ ترڅو اینده ځوان محققین د څېړنې پاتې برخې واضح او وڅېړې او تیاره برخو یې رڼا واچوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ۶- وړاندیزونه

۱- څیړونکی باید د خپلې څیړنیزې موضوع د ستونزې د هوارې له پاره د حل لیارې وړاندیز کړي او دا حل لیارې باید د پلی کولو وړ او پر واقعیت ولاړې وي یا په بل عبارت منطقې او مهمې وي.

۲- هغه موارد په ګوته کړي،چې د یادې څیړنې څخه وروسته کېدای شي... 

## ځانګړتیاوې:

لنډ، فصیح او مدلل.

روښانه، واضح او ممکن.

دقیق، عمیق او جالب.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ماخذونه

په تحقيقي ليکنو کې د ماخذونو او منابعو نه په متن کې استفاده او پای کې يې راوړل حتمي دي.

په ماخذونوکي هغه چاپ او ناچاپ اثار او سرچينې په ګوته کيږي، چې ليکوال ورڅخه د ليکنې پر وخت استفاده کړې وي.

د ماخذونو له راوړلو سره لوستونکيو ته دا څرګنديږي چې ليکوال د کومو اصلي او فرعي ماخذونو نه استفاده کړې ده، څومره مواد او منابع يې مطالعه کړي دي، کوم ماخذونه يې ارزيابي کړي دي.

د ماخذونوپه راوړلوسره د سرقت مخه نيول کيږي او د کره او ناکره معلوماتوڅرګندونه ترې کيږي.

پوهنيار قدرت الله صديقي

(c) ketabton.com: The Digital Library

# په متن کي د ماخذ استعمال او د هغي کتې

ددې لپاره که لوستونکی وغواړي ، په ليکنه کي د ځاي په ځاي شوي پارګراف يا ليکني په اړه تفصيلي معلومات تر لاسه يا خپل قناعت حاصل کړي او پدې برخه کي له ستونزې سره مخامخ ني نو اړينه ده چي د هر پارګراف وروسته بايد ماخذ ذکر شي .

ما خذ بايد په دې ډول ذکر شي ( ۱ : ۱۵ مخ)

يعني په اخځليکونو کي لمړی اخځليک او د هماغه اخځليک ۱۵ مه صفحه

پوهنيار قدرت الله صديقي

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د ماخذونو د لیکلو تګلاره

ما خذونه باید د الفباء د تورو په ترتیب سره ولیکل شي ، البته که له قرانکریم او احادیثو کتابونو څخه استفاده شوې وي هغه باید په ترتیب سره لمړي قرانکریم او بیا احادیثو کتابونه ولیکل شي .

د ماخذ د لیکلو طریقه :

تخلص ، نوم ، (چاپ کال) . کتاب نوم ، د چاپ ځاي:مطبعه .

د مثال په توګه :

صدیقي ، زرولي ، (۱۳۸۴ ل) . افغانستان د طاهریانو پرمهال ، جلال آباد: میوند خپرندویه ټولنه .

پوهنیار قدرت الله صدیقي

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ماخذونه

په متن کی د لیکوال نوم او نیټه مثال: **(صدیقي، ۱۳۹۴).**

- که دوه لیکوالان وي: **(صدیقي، ارمان، ۱۳۹۵)**
- او که له دوه وو زیات وي: **(صدیقي او همکاران یی، ۱۳۹۷)**
- **۲- له لست کیدو وروسته د الفباء په ترتیب د اثارو د شمیرې یادونه لکه: ( ۵:۱۲)**
- **د ماخذونو په لړ لیک کې:**
- **الف: یو لیکلوال: تخلص، اصلي نوم .(د چاپ کال). د کتاب سرلیک. د چاپ سیمه: نشرکونکی کمپنی، مخ یا مخونه.**
- که دوه او یا څو لیکوالان وي:
- **صدیقي، ارمان .(د چاپ کال). د کتاب سرلیک، د چاپ سیمه: نشرکونکی اداره، مخ یا مخونه**
- **ژباره:**
- **صدیقي، زرولي .(چاپ کال). د کتاب نوم، ژباړه، قادر زمان،..........**

(c) ketabton.com: The Digital Library

جهان، فاروق .(۱۳۹۸ ل). سیاست او سیاستمدار. کابل: نوې کابل خپرندوي ټولنه. ص ۳۴.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د مجلې څخه

- تخلص، د ليکوال نوم .( د نشر کال). د مقالی سرليک. د مجلې نوم، جلد شميره، ص ص
- **ورځپاڼه:**
- تخلص، ليکوال نوم.(د نشريدو نیټه مکمله يعنی کال، مياشت، ورځ).د مقالی سرليک.د ورځ پاڼې نوم.
- ايمل يا مصاحبه : (J. Hernandez, personal communication, May 25, 2018).
- Include the appropriate APA in-text citation after the quote.
- **Example:** *(G. Hoffman, phone interview, December 29, 2019).*
- *(A. Jackson, personal interview, February 8, 2019).*
- ويب سايت.
- **هاشمي، سيداصغر .(۲۰۱۹-۸-۹ م ). له اقتباسه د استفادې لارې چارې. (۲۰۲-۰۸-۰۲). https://dawatmedia24.com**

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د اقتباس څخه د استفادې لارې چارې

- (نقل مستقیم )Quotation reproduces a statement word-for-word as it appears in its original source.
- (د عباراتو بدلون (غیر مستقیم) نقل قول)Paraphrase explains a statement by using your own words and sentence structure.
- Summary explains a statement using your words, but typically condenses a larger statement into a shorter explanation



(c) ketabton.com: The Digital Library

# د اقتباس یا لیکنو څخه د استفادی علمي لارې چارې

- هره تحقیقي لیکنه کې د نورو څېړنېزو لیکنو استفاده کیږي، چې د همدغو لیکنو د پوهانو نظریاتو تائید او رد او همدارنګه د خپل نظر راوړل د څېړنې د کارونو اساسي برخه جوړوي او همدارنګه په ټوله تحقیقي پروژه کې د نورو لیکنو نه استفادې ته اقتباس وایي او په ټولو علمي او تحقیقاتي اثارو کې له نورو اثارو استفاده او یادونه خپل طرزالعمل لري.
- په تحقیقاتي لیکنو کې به له مراجعو او ماخذونو استفاده کیږي او د همدغو ماخذونو په کارونې سره علمي لیکنه له غیر علمي لیکنې سره بېلولای شو.
- ډاکټر مصطفی نیازی(د څېړنې تګلاره) اثرکې د اقتباس په هکله داسې وایي: (اقتباس دې ته ویل کیږي، چې د لیکوال یا محقق له پخوانیو علماوو او پوهانو نظریات او رایي په علمي امانت دارۍ سره نقل کړي، د علمي څېړنو پر مهال څېړونکې ته روا ده، چې د مخکنیو له ویناوو څخه اقتباس کوي.
- د څېړنیزو لیکنو لپاره ماخذونه او مراجع او د اقتباس په ډول له دې کتابونو استفاده کول د موضوع په ارزښت ټاکنه کې اساسي رول لري. بې ماخذه لیکنه ناسمه او علمي نه وي او نه بې اقتباسه لیکنې ته تحقیقي لیکنه ویلای شو؛ نو اقتباسونه د لیکنې د صداقت، اصلیت، سم والي، کره والي او په قوت دلالت کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د اقتباس نه د استفادې لارې چارې

- د اقتباسونو نه د استفادې لارې چارې ډول ډول په کتابونو کې ښودل شوي دي، چې یو ته سم او بل ته ناسم ویل سم کار نه دی؛ خو بیا هم د موادو او مراجعو نه د سمو استفادو کړنه په لاندې ډول دي:
- ۱. اقتباس (نقل قول) باید لنډ او د یو مخ څخه تجاوز ونه کړي.
- ۲. د کوم اصلي او فرعي مرجع نه چې اقتباس کېږي، باید اشاره ورته وشي.
- ۳. نقل قول (اقتباس) باید د خاصوعلاموپه منځ کې ولیکل شي.
- ٤. اقتباس باید د اصلي ماخذ څخه صورت ونیسي.
- دکتور قانت د اقتباس په هکله داسې وايي:
- د نقل قول (اقتباس) په هکله اکثره پوهان بېل بېل نظریات لري چې لاندې ډولونه یې مهم دي:
- ۱.هو به هو یا مستقیم نقل قول.
- ۲.د خلاصه کولو له لارې نقل قول.
- ۳. د عبارتو بدلولوله لارې نقل قول(اقتباس). (د علمي څېړنو تګلاره، ۵۲ مخ)

(c) ketabton.com: The Digital Library

# (مستقیم) نقل قول

- **(مستقیم) نقل قول:** مستقیم نقل قول کې څېړونکی د اول لاس (اصلي) او دویم او درېیم لاس (فرعي) ماخذونو نه عبارت په داسې ډول راوړي، چې هېڅ تغیر او تبدیل په کې نه راوړي.
- مستقیم نقل قول د دې لپاره نقلوي، **چې د خپلې نظر تائید وربانديې وکړي**، یا لوستونکیو ته د نقل شوي نقل قول خطا او غلطي ثابته کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د خلاصه کولو له لارې نقل قول

هر څېړونکی د نورو لیکوالواو محققینو له لیکنواستفاده کوي، د هغو له فکر او نظر سره نوي شیان اضافه کوي. که چېرې یو څېړونکی د نورو علماوو لیکنې لکه څنګه چې دی، هماغسې نقل کړي؛ نو دا به د څېړنې حجم زیات او عیبجنه کړي. د دې عیب د مخنیوي لپاره څېړونکی د پوهانو رایې لولي او په ډېرمهارت او مختصر شکل یې په خپله څېړنېزه ژبه نقلوي او په اخره کې د ماخذ یادونه کوي. (د علمي څېړنو تګلاره: ۵۳-۵۴مخونه)

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د عباراتو بدلون (غیر مستقیم) نقل قول

د یو مطلب د منځپانګې او مفهوم اخېستل او د څېړونکي خپل انګېرنه لیکل، دا یې ښه لاره ده؛ ځکه چې د هر لیکوال د لیکنې سبک بېل وي، که کټ مټ یا هو به هو واخېستل شي، نولوستونکی د یوې موضوع د لوستلو په صورت کې د څو لیکوالو د سبک سره مخ کېږي او د لوستنې بهیر ټکنی کوي؛ خو که څېړونکی د نورو معلومات په خپلو الفاظو او خپل سبک ولیکي؛ نو لوستل به یې اسانه وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# Quoting vs. Paraphrasing vs. Summarizing

| Quoting | Paraphrasing | Summarizing |
|---|---|---|
| Taking a direct quote and integrating it into the paper. A direct quote should be enclosed in quotation marks. | Expressing a short passage in your own words. Paraphrasing involves completely rewriting the passage while retaining the meaning. | Expressing a longer excerpt in your own words. Summarizing involves conveying the main ideas and main points of the source material. |

CUSTOM ESSAY

(c) ketabton.com: The Digital Library

نقل مستقیم

## QUOTE

"Comprehensive toxicological studies in animals have demonstrated that glyphosate does not cause cancer" (Monsanto, 2016, para. 1).

## PARAPHRASE

د عباراتو بدلون (غیر مستقیم) نقل قول

According to Monsanto (2016) there are "800+ studies demonstrating safety" of Glyphosate (infographic).

غیر مستقیم نقل قول

## INDIRECT SOURCE

The EPA maintains Glyphosate is "practically non-toxic" (as cited in Monsanto, 2016, para. 2).

## SUMMARY

د خلاصه کولو له لارې نقل قول

Glyphosate is safe (Monsanto, 2016).

(c) ketabton.com: The Digital Library

# مثالونه یا بیلګې

(c) ketabton.com: The Digital Library

## نقل مستقیم: (Quote)

- د استاد غضنفر په څراغ نومي کتاب لیکلي: (" چې د ماشومانو وهل او وېرول، نه یوازې د هغوی اوسنی ژوند ورتریخوي؛ بلکې اینده یې ورخرابوي. رسنۍ، د جوماتونو ملا امامان او معارف وزارت د دې پوهې په خپرولو کې لویه ونډه اخیستلای شي"). (۱۱: ۱۵۸)

- د عباراتو بدلون (غیر مستقیم نقل قول) (Paraphrasing)

- د څراخ تر عنوان لاندې کتاب کې استاد غضنفر لیکلي: وهل، ویرول نه یوازې د ماشومانو اوسنی ژوند تریخوي؛ بلکې ددوي په راتلونکي ژوند باندې هم ژوري اغیزې لري او د ګواښ سره مخامخ کوي، پدې برخه کې پوهاوي لپاره د رسنیو، جوماتونو د ملا امامانو او د معارف وزارت خورا اغیزمنه ونډه اخیستلای شي.

- د استاد غضنفر د څراخ نومي لیکنې مطابق د ماشوم وهل، ویرول د هغه اوسنی ژوند نه یوازې د تاوتریخوالي سره مخامخ کوي؛ بلکې په راتلونکي یې هم ژوره اغیزې لري او ژوند یې د خطر سره مخ کوي، ددې ستونزې په کمولو کې د رسنیو، د دیني بنسټونو او وزارت معارف رول د عامه پوهاوې په برخه خورا اغیزمن تمامیدای شي.

- نقل قول غیر مستقیم (Indirect Source)

- د څراخ تر عنوان لاندې کتاب کې استاد غضنفر لیکي: وهل، ویرول نه یوازې د ماشومانو اوسني ژوند تریخوي؛ بلکې ددوي راتلونکي ژوند د ګواښ سره مخامخ کوي، پدې برخه کې پوهاوې لپاره د رسنیو، جوماتونو د ملا امامانو او د معارف وزارت خورا اغیزمنه ونډه اخېستلای شي.

- **لنډیز(خلاصه کول لیارې نقل قول) (Summarizing (Summary**

- د څراغ نومې کتاب کې استاد غنضفر لیکلي: د ماشومان وهل، ویرول د دوی راتونکی تریخوي او د ګواښ سره مخامخ کوي، نو پدې اساس رسنۍ، مذهبي بنسټونه او معارف وزارت د عامه پوهاوې برخه کې مهم رول ادا کولای شي.

- د څراغ نومې کتاب کې استاد غنضفر لیکلي: د ماشومان وهل، ویرول د دوی راتونکی تریخوي او د ګواښ سره مخامخ کوي، نو پدې اساس رسنۍ، مذهبي بنسټونه او معارف وزارت ددې ستونزې په برخه کې مهم رول ادا کولای شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د ابن خلدون د تاریخ ګردش نظریه

## 1_نقل قول مستقیم

- " ابن خلدون د تاریخ د ګردش موضوع څېړلی ده او وايي تولني د دوراني لید تابع ده او په هره دوره کې یو څه ځانګړي مراحل طی کوي، ټولني او دولتونه لکه: د انسانانو غوندې د ځانګړي ژوند لرونکي دي، وده کوي، د نبوغ او پخوالي مرحلی ته رسیږي او بیا نزولي لاره اختیاروي " . (۱۱: ۱۵۰ ص).

## 2-د عبارت بدلون

1-د ټولني دایروي نظریه ابن خلدون په خپلو اثارو کې څېړلی ده، او وايي چې ټولنه د دایروي نظري تابع ده، او ټولنه په هر پړاو کې ځانګړې مراحل سر ته رسوي، دی ټولنه د انسان د ژوند سره تشبه کوي، او وايي: ټولنه د انسان پشان زیږي، وده کوي او ارتقا مراحلو ته رسیږي او بیا تنزول لاره اختیاروي. (۱۱: ۱۵۰ ص).

2-د ابن خلدون د لیکنو مطابق دایروي نظریه د ټولني د مختلفو پړاونو څخه د تېریدو نظریه ده، هغه ټولنه د انسان د ژوند سره تشبه کوي او وايي چې څرنګه د انسان ژوند د مختلفو پړاوونو څخه تیریږي، دغه شان ټولنه هم زیږي، وده کوي او په اخره کې د زوال په لور ځي.

## 3-خلاصه کول

- ابن خلدون دایروي نظریه د ټولني د مختلفو پړاونو په اړه څېړنه ده، چې ټولنه د انسان د ژوند سره تشبه کوي، چې زیږي، وده کوي او په اخره کې زوال په لور ځي.
- ابن خلدون د ټولني دایروي نظریه د انسان د ژوند مختلف پړاونو سره تشبه کوي، چې زیږي، وده کوي او زوال پرې راځي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# په مونوګراف لیکنه کې د فونټونو استعمال

1. د مونوګراف په لیکنه کې باید فنټونه په لاندې ډول وکارول شي.
2. عمومي عنوان په ( ۱۶ ) او فرعي عنوان په ( ۱۵ ) فنټ کې ولیکل شي.
3. متن په ( ۱۴ ) فنټ کې ولیکل شي.
4. د کرښو تر مینځ باید فاصله ( ۱،۵ ) وي.
5. په لیکنه کې د خطونو له کش کولو راکش کولو ډډه وشي.
6. د ورقې پاسنۍ او ښکتنۍ خاشیه باید ( ۲ ) وي .
7. د ورقې ښي او کیڼ لور ته فاصله باید ( ۲ ) وي .
8. عمومي عنوان باید په مینځ کې او کوچنی عنوان ښي لور کې ولیکل شي.
9. ټوله لیکنه کې باید یو ډول فنټ استعمال شي لکه کروړ یا بل .
10. په لیکنه کې باید د خطونو له ډیزاین کولو ډډه وشي.

پوهنیار قدرت الله صدیقي

Get more e-books from www.ketabton.com
Ketabton.com: The Digital Library